Preview (1 / 10) - ketabton.com

لکه څنګه چې پوهېږئ په اوس حالاتو کې اعتراض په مکمله توګه بند ده، نو په اوسني حالت کې اعتراض خو لاڅه کوې چې د دولت په وړاندې تخیل هم یو جرم ده.

بس همدې حالت دې ته اړ کړم څو دا ناول که څه هم خپروم خو یوه لوړه بیه به پرې کېږدم څو خلک یې ډانلوډ نه کړي او دا هم وي چې وروسته بیا څوک ونه وایي ودان ناول هغه وخت (مطلب اوس) لیکلی وؤ نو ثبوت یې باید.

نو د همدې لپاره له هغو کسانو چې کېدای شي دا ناول په همدې لوړه بیه وپلوري هیله کوم دا ناول مه خپروئ.

والسلام

Preview (2 / 10) - ketabton.com

د شـــپې ويده وم چې زما ملګري ژوندون ملنګيار چې ما به ژوندون ملنګ ورته ويل زنګ راوواهه، چې خنګه مې پورته کړ، نو له سلام وروسته يې وويل:

يارو! هغه په آلمان کې زمونږ خپلوان دي هغوئ يوه آلمانۍ نجلۍ راوپېژندله چې کېداى شي ډېر ژر افغانستان ته راشي.

خبره مې ورپرې کړه او په بېړه مې وويل:

ښه نو تاسو هم سمدواره شوندې ورته وځټلې؟

هغه په غوصه وويل:

نه يارو! ته خو مې يو وار خبرو ته پرېږده هغې بېګاه ماته مســـېج وکړ او راته ويې ويل چې بله اونۍ افغانستان ته درځم، يو موټر او يو ځاى راته پيدا کړئ.

حيران شـــوم چې دا د ظالم لور د څه لپاره راځي او څنګه دا جرأت کوي چې دلته راشي؟ ځکه خو مې ژوندون ملنګ نه وپوښتل:

ياره ملنګه دا څه کوي چې دلته راځي، زمونږ ډيموکراټان خو پيســـې او ډالرې ورکوي چې له دې ځاى نه ووځي.

ژوندون ملنګ په جدي توګه راته وويل:

زه خو له دې سره په خبره نه پوهېږم، دا خبرې زمونږ خپلوان راته کړې دي، هغه ويل چې له نړيوالې ټولنې سره يې کار پيدا کړى دى او دا کار په افغانستان کې ده، پاتې شوه دا چې ډيموکراټان بهر وځي نو بايد ووايم که ما ته هم موقع برابره شي، نو خامخا ځم، بله که ته ځان ښـــېې، نو بايد ووايم چې له کله نه دې واده کړى له کوره نه راوځې، له هيواده به څنګه ووځې.

د ژوندون ملنګ دا خبره که څه هم ډېره ناسمه نه وه، خو بيا هم ډېر ښـه راباندې ونه لګېده، ځکه خو مې ورته وويل:

ته لکه چې دا اوس په پارک کې ناست يې؟

ملنګ زما په مطلب پوه شو، نو يې وويل:

Preview (3 / 10) - ketabton.com

يارو ته په ټوکو هم نه پوهېږې.

په خندا مې وويل:

نه ياره! څه ټوکې دې کولې، سم دې رېښتيا ويل.

ژوندون ملنګ وويل:

يارو! دا خبرې پرېږده، هغې چې کوم مسېجونه رالېږلي دی، ما يې ځواب نه ده ورکړی ته راسره مرسته وکړه.

حيران شوم چې څنګه مرسته ورسره وکړم،ځکه زه خو په آلماني ژبه نه پوهېدم، نو څنګه به مرسته ورسره وکړم، ځکه خو مې ترې وپوښتل:

نو ته څنګه پوه شوې چې هغې ليکلي ول چې افغانستان ته درځم.

په بېړه يې وويل:

يارو! هغه وخت خو زموږ د خپلوان لور ورسره ناسته وه او ماته يې د هغې خبرې په پښتو ژبه رالېږلې. زه درته د هغې مسېج فارود کوم ته وګوره چې څه يې پکې ليکلي دي.

ورته ومې ويل:

زه ويده يم يار!

هغه وليکل:

څه کوم کار خو نه کوې، چې نه غواړې مسېج ځواب کړې او بل دا چې که ويده وای خبرې دې څنګه کولې؟

حيران پاتې شوم چې څه ځواب ورکړم، ځکه خو مې ورته وويل:

سمه ده ته يې راولېږه چې څه کولای شم.

لومړی مسېج يې را فارود کړ، ما هم خپل يوه ملګري ته چې په آلمان کې اوسېد فارورد کړ، هغه راته بېرته په ځواب کې له سلام وروسته وليکل:

Preview (4 / 10) - ketabton.com

دلته لیکل شوي چې سلام! ما د درتګ چمتوالی نیولی ده، خو دې ته حیرانه یم چې څنګه ویزه واخلم او بیا ټکټ واخلم؟

ژر مې ژوندون ملنګ ته فارورد کړ، له څو شېبو وروسته یې دوهم را فارورد کړ او چې څنګه مې ملګري ته ورفارورد کړ، نو په ځواب کې کې راته ولیکل:

مطلب ته یو کس پیدا کړه چې موټر ولري او که دا کار ممکن نه وي، نو زه به پینځه زره یورو در ولېږم، چې یو موټر واخلې نو ته یو کس پیدا کړه چې په حقوقو کې څه ناڅه پوه ولري.

ژر مې ورفارود کړ او بیا مې ځان سره ســوچ وکړ چې دا د ظالم لور نو څومره خرآباده نجلۍ ده، چې د نړیوالې ټولنې دندې لپاره موټر اخلي، چې په دې کې ژوندون ملنګ بل مسېج را فارود کړ، ما هم د تېر په شان زما ملګري ته فارود کړ، دوه دقیقې وروسته د هغه مسېج راغی چې پکې لیکل ول:

ژر ځواب راکړه، ځکه چې زه ډېره ژر قطر ته روانېږم او نه غواړم چې بې له کره معلوماتو درشم، هیله ده چې ژر ځواب راکړې!

ما ژوندون ته د (ډیموکراته ملګرې دې وایي) جمله ور ډېره کړه او بیا مې ورولېږه، څو شېبې وروسته ملنګ ولیکل چې:

ته ولیکه! سمه ده، ته د موټر پیسې راولېږه، زه به موټر واخلم، خو که ستا باور پرو موړ وي.

په دې موده کې مې یو ټېکس ټرانســلېټر (Text Translator / د لیک ژباړونکی) را ډانلوډ کړی وؤ، د ده لیکنه مې په هغه کې په انګرېزي ولیکله او بیا مې آلماني ژبې ته وژباړله او بېرته مې ملنګ ته ولېږله.

*****

څو ورځې وروسته ژوندون ملنګ راپسې راغی ویل یې:

یارو! زه غواړم چې موټر درته واخلم، پرون زموږ د خپلوان لور د پېژندپاڼې ســکن وغوښـــت او نن هغې سورمخې پیسې رالېږلې وې، را اخیستې مې دي، ځکه خو راځه چې موټر واخلو.

ومې ویل:

Preview (5 / 10) - ketabton.com

نه ګرانه! زه خو فکر کوم چې باید سبا ته پاچاآغا له ځان سره کړو او موټړ پسې لاړ شو، ځکه سبا ته جمعه ده او په جمعه کې جُمعه بازار هم وي.

ژوندون ملنګ لږ په سوچ کې شو او بیا یې وویل:

ریښتیا وایې یارو! زه چې اوس یو چکر ووهو!

په خندا مې وپوښتل:

نو بیا پیسې هم درسره دي؟

ژوندون ملنګ په موسکا وویل:

نه یارو! پیسې مې په کور کې کېښودې، دا خبرې پرېږده، راځه چې اوس مرکز ته لاړ شو.

دواړه د مرکز په لور په حرکت شولو، په لاره کې مو سیګرېټ واخیستل او بیا مو ځان مرکز ته ورساوه، هلته زاهدالله او قربان الله هم وؤ، زاهدالله مو د قربان الله له خوا پېژانده، سـلام مو پرې واچاوه او سـتړې مشـې مو ورسره وکړه، قربان الله وویل:

راځئ له مونږه سه کېنئ!

که ریښتیا ووایم نه یوازې زما، بلکې د ژوندون ملنګ هم زاهدالله نه خوښېده، ځکه خو مې په ځواب کې ورته وویل:

نه ابراهیم خېل صاحب مننه! زه او ملنګ به ځان ته کېنو او خپل ځانګړی بنډار به جوړ کړو.

له زاهدالله او قربان الله مو خدای په اماني واخیسـته او غونډۍ ته پورته شـولو او د غونډۍ په یوه څنډه کېناستو او یو یو سیګرېټ مو بل کړ، بیا مې له ژوندون ملنګ څخه وپوښتل:

دا سور مخې نو څه نومېږي؟

ژوندون ملنګ په حیرانتیا راته وکتل او په حیرانتیا یې وویل:

انجیلا وه، لکه چې؟!

په ټوکه مې وپوښتل:

Preview (6 / 10) - ketabton.com

انګېلا مېرکېل وه او که انجیلا جولي؟

ژوندون ملنګ وویل:

انجلینا جولي خو د آمریکایي او اسرائیلي فلمونو لوبغاړې ده، خو دا نګېلا مېرکېل څوک ده؟

په موسکا مې وویل:

یارو ته خو په سیاست کې صفر یې، ځکه د آلمان لرې کېدونکې لومړۍ وزیره نه پېژنې.

ملنګ په حیرانتیا راته وویل:

ښه یارو! سیاست مې تاته پرېښی ده، موږ په سیاست کې ګوتې نه وهو.

په خندا مې ورته وویل:

ښه هغه غني ته به دې چې بابا ویل، هغه لکه چې سیاست نه وؤ، غریبي وه!

په خندا یې راته وویل:

ما بیا کله بابا ورته ویلي دي او که ریښتیا ووایم، نو هغه ته بابا ویل د هغه حق ده، ځکه افغانستان ته یې ډېر خدمتونه او چوپړ کړی ده.

د حیرانتیا یو ادا (تمثیل) مې ورته وکړ او بیا مې وپوښتل:

د مثال په ډول څه خدمت او چوپړ یې کړی؟

په تروې تنډې یې راوکتل او بیا یې وویل:

ولې د شمال زورواکي یې درته ختم کړل، جمعیت ګوند یې ټوټې کړ، بندونه یې درته جوړ کړل، لکه سلما بند، کمال خان بد او شاه و عروس بند، د لاجورودو لار یې درته جوړه کړه او داسې نور، خو پاکستان پرېښښود چې نور خدمت وکړي.

په موسکا مې ورته وویل:

Preview (7 / 10) - ketabton.com

د شـمال زورواکي او جمعیت سـتا بابا ټوټې ټوټې نه کړل، بلکې د پخوانیو مشرـانو مړینې یې او په انسـان کې د قدرت غوښــتنې پدیدې دې ته اړ کړل چې په خپلو منځونو کې سره ورغورځېږي، پاتې شــوه د بندونو خبره، که سـلما بند د غني له خدمتونو څخه وشـمېرو د دې لپاره چې کار یې د غني په حکومت کې بشـپړ شـوی، نو دا نور بندونه د غني له خدمتونو څخه نه شو ګڼلی،ځکه کار یې لا نده بشپړ شوی او لارې خو بېخي پرېږده، ځکه غني د وربښمو اصلي لاره کې خنډ شو چې له امله یې دا لار په پاکستان کې تېره شوه او پرځای یې د لاجوردو بېکاره لار جوړه کړه. پوه شوې؟

ژوندون ملنګ په غوصه او حیرانتیا راوکتل او ویې ویل:

یارو! ته خو له پخوانه له اولســمشرـ کرزي او اولســمشرـ غني سره خلاف وې،ځکه خو هېڅ کله د هغوئ خدمتونه نه منې.

غوښــتل مې چې ځواب یې ورکړم، خو مؤذن د د ماښـــام آذان وکړ، ځکه خو موږ اړ ولو چې ځان مرکز ته ټولو نږدې جومات (خالد بابا جامع جومات) ته ورسـوؤ او هلته لمونځ وکړو. حرکت مو وکړ او په خالد بابا جومات کې مو لمونځ وکړ، تر لمانځه وروسـته به مې هر وخت سـورة الواقعه لوسـته، البته د ماښـام تر لمانځه وروسـته، نو ځکه مې ســـورة الواقعه پیل کړه او بیا بېرته مرکز یعنې پارک ته لاړو، نږدې تر ماخوســـتنه هلته ولو، ځکه خبرې مو کولې او هغه دوه ترانې مو اورېدلې چې د ملنګ خوښېدلې اوله یې د قاري احسان الله احسان دا ترانه وه چې:

خفه خفه یم له دنیا لحده

سترې راغلی یم تر تا لحده

او دوهمه یې د ګل خوبان ککي په غږ دا ترنم:

کجکول په غاړه مجنون راغی د لیلیٰ کوځې ته

لکه چې څنګ یو ملنګ ځي د بادشاه کوځې ته

د ترانو تر اورېدو وروسته مو کورته حرکت وکړ، په لاره کې یې راته وویل:

یارو تر واده وروسته دې هم مجردۍ ملګرتیا او بنډار ساتلی ولا تکړه یې.

Preview (8 / 10) - ketabton.com

هېڅ مې ونه ویل او همداســې روان وم، چې د باجه گل دُکان ته مې ورســېدو، هغه د ظالم زوی هم په پیلامه کې وویل:

ژوندونه! ښه شوه چې دی دې له ځانه سره چکر ته بوته، ځکه بېچاره مسافر ده (مطلب مېرمن یې د خپل پلار کره تللې).

ناڅاپه مې له خولې نه ووتل:

خدای دې تاته هدایت وکړي، چې بې پوښتنې او غوښتنې خبره را څرگنده کړې.

له دې سره نو ژوندون ملنگ ته هم خدای ورکړه او پر ما یې مسخرې پیل کړ او وروستۍ خبره یې دا وه:

یارو! چې کله مسافرېدې، موږ ته خبر راکوه.

پوه شــوم چې د ټوکو لاندې راغلی یم، ځکه خو مې خدای په امانې واخیســته او کورته ولاړم، هلته د نصــوارو ډېر کلک خمار راغلی وؤ، نصــوار به څه نصــوار ول، خو هلمندي (٢٤) پان ول، ځکه خو مې تر پاســنۍ شونډې لاندې کېښودل او قاري صاحب قاضي مولا عاده دا ترانه مې روښانه کړه چې وایي:

مونږ شرقیان کړل نسکور اوس غربیان ماتوؤ

دا مخ تور کبرجن د جهان ماتوؤ

او تر هغه وروسته د عبدالکحیم سجاد جرس په غږ دا ترانه:

په مجنون اوري را اوري په لیلیٰ اوري رااوري

بدرنگۍ کاڼي راخیستي په ښکلا اوري رااوري

زما ســندرې نه خوښــېدې، خو نه پوهېږم چې په دې ورځ مې څنگه زړه وشــو د گل پاڼې دا ټپه واورم چې فکر کوم وایي:

تنور لمبه که ځان سینگار کړم

د نغري ایرې به څوک جارو کوینه

او د شاه فاروق په غږ دا سندره:

Preview (9 / 10) - ketabton.com

الا و‌وش وش الا ځار ځار

تعویذ د نظر وکړه په اختر کې چې نظر نه شې

د چا په مخه ورنه شې

دا دوه سندرې مې واورېدې، خو تر اورېدو وروسته یې دستي پښېمانه شوم او سندرې مې ډېلېټ کړې، ځکه ډېره ستره ګناه او بدبختي راته ایسېده او ځینې مولایان وایي چې د سندرو اورېدنکو په غوږونو کې مس اوبه کوي پکې یې څڅوي یې.

ښځه مې نه وه کوټې خوند نه راکاوه، ځکه خو دې ته په سوچ کې لاړم چې هغه خلک چې له خپلې مېرمنې نه کرکه کوي، هغه طلاقوي او یا آن وژني یې، چې څنګه دا کار کوي هسې خو زموږ ننګرهاری ملګری ښاغلی (وران لیکوال) وایي چې:

سړي ته په دې سړی وایي چې سړول کوي او ښځې ته په دې ښځه وایي چې ښه ځای لري.

نو په دغه حال کې څنګه سړی کولای شي چې خپله ښځه وډبوي، طلاق یې کړي او یا یې ووژني. په دې اړه مې ډېر سوچ وکړ او په پای کې دې پایلې ته ورسېدم چې اورمرو دغه خلک لېوني شوي دي.

ټول ژوند خو سړی نه شي کولای چې سوچ ووهي، ځکه خو مې د نصیر احمد احمدي ((برېوکی)) ناول کتاب راواخیسته او د هغه په لوستلو مې پیل وکړ، که ریښتیا ووایم، نو ډېر خوندور ناول دی، نه پوهېږم چې تاسو ته به خوند درکړي او که نه، خو ماته یې سخت خوند راکړ چې له امله یې دې ته اړ شوم چې تر هغه وروسته یې څو ځلې ولولم. یوازې دا ناول نه بلکې د نصیر احمد احمدي ((یوه خبره درته وکړم/وکم)) ناول، د نسیم حجازي ډېری ناولونه لکه (دیو غازي داستان/محمدبن قاسم/شاهین/وروستی مورچل او انسان او دېوتا)) ناولونه سره له دې چې ډېر اوږده دي، خو بیا هم په دې ارزي چې سړی یې په بیا بیا ولولي او خوند ترې واخلي، ځکه دا ناولونه ډېری تاریخ ته په لیدو لیکل شوي دی او تر ډېره لیکوال هڅه کړې ده، څو په تاریخ کې هغه څه راواخلي چې څېړنې ریښتینې راوېستلي وي، نو ځکه دا ناولونه ډېر غوره دي. په لوستلو یې نه یوازې خوند ترې اخیستلی شئ، بلکې له امله یې تاسو کولای شئ تاریخ ته په ډېر آسانه کتنه ولرئ.

نو راځمه دې ته چې ناول مې لوستـه، آن تر هغو پورې چې خوب یوړم، له خوب نه مخکې د ناول هغه ځای ته رسېدلی وم، چې کوچي ځوان ته څوک وایي چې ته په هغې باندې مئین شوی یې او دا هرڅه چې ته وایي

Preview (10 / 10) - ketabton.com

د مينې نښـــې دي، ځکه خو مې خوب کې ليدل چې ملنګ ماته هغه خبرې کوي کوم چې کوي ځوان هغه بل ځوان ته کړې وې، زه يې په ځواب کې وايم:

ګوره ګرانه! ته په هغې سورمخې مئين شوی يې، خو پام کوه چې هغه سور مخې يوه ورځ بېرته تلونکې ده، بيا داســې نه وي چې ته له مات زړه سره همدلته پاتې يې او هغه خبره او يا بې خبره بېرته تلونکې وي، نو بيا هغه وخت به تا ډېر ستر قېمت ادا کړی وي او هغه به دې هېڅ په کيسه کې نه وي.

خو ژوندون ملنګ راته وايي:

زه اوس په دې لاره راغلی يم او بېرته ستنېدل مې امکان نه لري.

په همدې له خوبه را پاڅېدمه، ساعت ته مې وکتل، د شپې (۹:۰۰) بجې وې، پوه شوم چې ماخوستن لمونځ خو مې ښـه ټيټ قضـاء کړی ده، ځکه خو په بېړه پاڅېدم اودس او لمونځ مې وکړ او بېرته د ناول په لوسـتلو لګيا شـوم، چې ومې کتل د ناول دوام تر هغه څه چې ما په خوب کې ژوندون ملنګ ته ويلي وؤ هم بد وؤ. ځکه د ناول په پای کې نه يوازې دا چې هلک يې يوازې پرېښــوده، بلکې يو ډز يې وهم ويشـــته. خپلواکي ريښـــتيا هم خوندور شی ده، ځکه زه د خدای ښښلي نصير احمد احمدي په ياد ناول کې په دې پوه شوم او تاسو نه هم هيله کوم چې تاسو پخپله هغه ناول ولولئ، تر څو په دې پوه شئ، ځکه که تاسو ته هغه ناول تېروم، نو دا کيسه به رانه پاتې شي.

سهار وختي ژوندون ملنګ زنګ را وواهه او ويې ويل:

د پرنګي لور پيغام پرې ايښی ده چې نن ماښام ته نږدې يې په کابل کې الوتکه ناسته کوي، څه کوؤ؟

حيران شوم، چې دی څنګه پوه شوی،نو ومې ويل:

نو ته له کومه په آلماني ژبه پوه شـــوې، بل دا چې څه به کوؤ، خو داســـې به وکړو چې ســـتا هغه کباړ به راواخلو او هوايي ډګر ته به پسې ورشو، له هغه ځايه به يې پورته کړو.

له حيرانتيا څخه په ډک غږ يې وويل:

چېرته يې بوځو؟

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/pHbTxLViNjv

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.